واک بـه مـو بـل سـره وي يـاره ځـان بـه پـاتې نـه وي
مينــه الفــت بــه نــه وي دا جهــان بــه پــاتې نــه وي

چـې زهٔ پـرې بيـا اوښـکې دمـه کـړم او تـه ګـورې ورتـه
سـتا تـر راتلـو پـورې اشـنا ګرېـوان بـه پـاتې نـه وي
جنـون ، سـاغر او مـی دا درې واړه بـه ورک ورک وي
داميکــده بــه نــه وي دا رنــدان بــه پــاتې نــه وي
راځـــه يـــو ځلـــې راســـره دزړه خبـــرې وکـــړه
بيـانو کـه مرمـه ګـوره بـل ارمـان بـه پـاتې نـه وي

سـتا مريـدي خيـال بـه يـواځې شـې بـې پيـره بـه شـې
( ساحله )! دا (درویش ) او دا( کاروان ) به پاتې نه وي

Ketabton.com



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



داڅـــو اوښـــکې دي ګرېوانـــه دادې تاســـره يادګـــار وي
دا مـــې درکـــړې لـــه خپګانـــه دادې تاســـره يادګـــار وي

څـو سـپېڅلي شـهيدان مـې درتـه پرېښـودل پـه غېـږ کـې
ډک لـــــه ننـــګ افغانســـتانه دادې تاســـره يادګـــار وي
ځي له زړه نه مې سرې وينې راشه خال ترې ځانته کېږده
زه چـــې مـــړ شـــومه جانانـــه دادې تاســـره يادګـــار وي
څو ترخې خاطرې واخله پام چې څوک پرې خبر نـه شـي
زړه مـې تـور دی لـه هـر چانـه دادې تاسـره يادګـار وي

څـو غزلــې څـو سـندرې خـوار ( سـاحل) درتــه ليکلــي
او س نـو ځـي لـه دې دونيـا نـه دادې تاسـره يادګـار وي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

دخلکو منځ کې اشاره ښه نه وي
په تنهایۍ کې بهانه ښه نه وي

دمینې کورته مخامخ ځي سړی
په دروازه کې یې دمه ښه نه وي

دعشق لفظونه خو خواږه خواږه وي
دعشق پر پانبو سریزه ښه نه وي

قد دچنار په شان او دنګه غړی
هسې لنډۍ بوچۍ وږه ښه نه وي

( ساحله ) سر تاو کړه اوده شه کرار
بس هره شپه خو شوګیره ښه نه وي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــو عشــق و یــو خلــوص و بــل ارمــان و راســره
همدغـــــه برکــــت و چــــې جانــــان و راســــره

یو چـا ویـل چـې تـش لاس دجانـان کـوڅې تـه مـه ځـه
یــو چــا ویــل چــې نــه تلمــه خــو ځــان و راســره



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــس خــو چــې چمبــه لاســو کــې ونیســـي
زړونـــو تـــه لمبـــه لاســـو کـــې ونیســـي

نـــورو تـــــه دمینـــــې ترانـــــې وایـــــي
ماتـــــه ســـــیپاره لاســـــوکې ونیســـــي

زه چـــې نیمـــه شـــپه غـــزل غـــزل شـــمه
څـــوک راتـــه ډیـــوه لاســـو کـــې ونیســـي

تـــه چـــې راســـره ګرځـــې اکثـــر، ښـــکلي
اور اخلـــي آیینـــه لاســـو کـــې ونیســـي

ښـکلیه ! ستا (ساحل ) بـه اخر ستا پـه سر
ټولـــه میخانـــه لاســـو کـــې ونیســـي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هم زما په برخه کې جانان ورسي
زما ګاونډ او زما چم ته بیا شیطان ورسي

خپلو کړو وړو خبرو ته خوشحاله ومه
خو په دې نه ومه چې تاته به تاوان ورسي

لږ چې چا ورټلو لږ چې چاخپه غوندې کړو
زمونږه زور ایله په خپل ځېرې ګرېوان ورسي

بس په ایمان یې درته وایمه باور پرې وکړه
هر څه به بې خونده شي چې تاته څه خپګان ورسي

د ډېرو بنګلو له دعا څخه بې برخې شومه
یقین مې نه شي چې منزل ته مې کاروان ورسي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دنظر غشي چې نه ودریږي
یاره ! زما به اخر زړه ودریږي

ګیلې مې ټولې خولې ته راولمه
چې موکه راشي بیا مې خوله ودریږي

نور هر سړی ترېنه په زوړ تیریږي
زمونږ سندرو ته کانه ودریږي

زمونږ دبخت مرغه خاونده هروخت
چې څنګه شي په الوته ودریږي

ساحله! نوې هیلې زړه ته راشي
سپوږمۍ چې کله هم په غره ودریږي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

رنګینه شپه ده
تیاره خوره ده
رندان راټول دي
بنګ دي نشه ده
غاړه یې سمه
لکه پیاله ده
په یوه غاړه
خوله ،خوله ده
لکه دشاتو
داسې خوږه ده
بس مړه ژوند دی
بشکلې کیسه ده



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

لاره وي ګـــودر وي ســــړی وډار شــــي
هســـې زړه اوتـــر وي ســـړی وډار شـــي
څــومره کــه ديــار ســره تنهــا وي څــوک
بيــا هــم يــو نظــر وي ســړی وډار شـــي
دا مخلـــوق او دا زمـــان چـــې وګـــورې !
څــومره چـــې بــاور وي ســړی وډار شـــي
ښـــکلي چـــې دمــرګ پـــه نـــوم راوتـــي وي
يـــو وي کـــه لښـــکر وي ســړی وډار شـــي
دغـــه ميخـــانې دې نـــورې ړنګـــې شـــي
هســـې هـــم کـــه شـــر وي ســـړی وډار شـــي
ټـول وجـود کـه بـايلې نـو څـه بـاک نـه وي
زړه تـــه چـــې خطـــر وي ســړی وډار شـــي
وي د جنــــګ پيغـــام او کــــه د امــــن وي
نـــو م يـــې چـــې خبـــر وي ســړی وډار شـــي
بـس خـو چـې ( سـاحل ) يـې کلـه نـه درلـود
رود کــــه ســــمندر وي ســــړی وډار شــــي

دکب څلورمه دشپې دولس بجې دازمون صيب کور



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن په دې پورې میخانه کې یوه شپه کومه
چې هر څه کیږي بس ګنا کوم نشه کومه

چې ستا قامت اوستا رخسار ستایم نو بیا دلبره !
هغې غزل ته پوره درې شپې شوګیره کومه
دمخورو او سپین ږیرو خودې ونه منل
داځل دکلي لېونو باندې جرګه کومه
لېونی نه یم، چې په ځان راټولومه خلک
په زړه مجبور یم، چې رباب وهم ټپه کومه
هر ځل په کاڼو بدرګه یو خو بیا هم درځمه
ستا په کوڅه کې لا غزل لیکم دمه کومه

نن چې داستا په مخامخ دلبره چپ ولاړ یم
نن خو دې زه دښکلي حسن تماشه کومه



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه راځه اختر دی
مینه کوه اختر دی
په ما اوتا جانانه !
هره شپېه اختر دی
وېل دسعودي شپخانو
وخورئ روژه اختر دی
یوه خولګۍ غواړمه
پرېږده بانه اختر دی
( ساحله ) !ونه سوځې
لمبه لمبه اختر دی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمان بچي دکفر تر سرايه نه ځي
که ټول له لوړې مري خو بياهم تر بډايه نه ځي

هغه غړونه به د زړه دتل غړونه نه وي
هغه غړونه چې له دې ځايه تر خدايه نه ځي

لکه زخمي سپاهي به خامخا پرېوځي آخر
څوک چې دميني په لار ځي او بيا تر پايه نه ځي

دغه پاچا خو ځان تردې حده بدنامه کړ چې
داخل به دې چوکۍ ته دا دچا په رايه نه ځي

سترې جګړې ته ځي تکړه ملګري ګوره ځانته
( ساحله ) دوی خو تاسره دجنګ تر ځايه نه ځي

۸۷- ۳ – ۱۱



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يار چم ديار مالت کې چې څوک ګرځي
داسې وي لکه جنت کې چې څوک ګرځي

ببر سر خېرې ګرېوان نمجنې سترګې
بس دچا په محبت کې چې څوک ګرځي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاســـره چـــې ګـــرځم نـــو ســـړی یمـــه
مینـــه یمـــه ژونـــد یمـــه ســـپرلی یمـــه

ځــو کــه هـم لــه خـړو خــاورو شـته یمـه
بیـــاهم دچـــا ګوتـــه کـــې غمـــی یمـــه

زه هـــم درنـــه نـــوره مینـــه نـــه غـــواړم
دومره بس چې سترګو کې دې ځـای یمـه

ځــو کــه مــې لاســونه درتــه نــه رســي
بیـــا هـــم ســـپوږمۍ زه ســـتا لېـــونی یمـــه

خونـــد دښایســـتونو مـــې ځکلـــی دی
ځکـــه لا ( ســـاحل ) یـــم لا زلمـــی یمـــه



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له رنګه خلک رنګ اخلي ښکليه
دځوانۍ خومار ته بنګ اخلي ښکليه

اوس بې مينې خلک مينه مينه پايي
خو زمونږه زړونه زنګ اخلي ښکليه

د ښايست په فلسفې پسې مونږ ورک شوه
خو فايده ترېنه بدرنګ اخلي ښکليه

ستاپه نوم دلته کې ډېر خلک اباد دي
ستاپه نوم خلک قلنګ اخلي ښکليه

له ساحل سره يې د قدر لاره نه شته
ګنې ښکلی له چا څنګ اخلي ښکيه !



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتـــه دفکـــر او دخیـــال خبـــرې ډېـــرې کیـــږي
د تـــورو ســـترګو دجمـــال خبـــرې ډېـــرې کیـــږي

خـدای شـته چـې مـونږ خـو دهېچاکمـال ونـه لیـدلو
دلتـــه خـــو هســـې دکمـــال خبـــرې ډېـــرې کیـــږي
چـایې هـم تـورې او قلـم تـه درنښـت نـه دی کـړی
هســـې پـــه ژبـــه دخوشـــحال خبـــرې ډېـــرې کیـــږي
کلـــه چـــې زړونـــو کـــې بـــلا کینـــې را وټـــوکیږي
بیـــا دثـــواب  او د اوبـــال خبـــرې ډېـــرې کیـــږي
سـپوږمۍ یـا تـه راشـه یـا مـا درسـره پورتـه بوځـه
زمـونږ تـر منځـه د دېـوال خبـرې ډېـرې کیـږي

ښـایي چـې مینـې دې  د زړه لـه کـوره کـډه کـړې
( ســاحله ) اوس دې دزوال خبـــرې ډېـــرې کیـــږي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جینکۍ

ښـــکلا لـــري ښایســـت لـــري ســـرزوره جینکـــۍ دي
پـــه مـــرګ پســـې راوتـــې نـــن لـــه کـــوره جینکـــۍ دي

یـــوه لـــه ګـــوتې ونیســـه اوبـــل تـــه غـــاړه ورکـــړه
ددې وطـــن خـــو مـــړه بـــې پېغـــوره جینکـــۍ دي
یـــواځې دســـپېڅلي مینـــې تـــږي دي ( ســـاحله )
ټـــول عمـــر جنـــګ ځپلـــي او بـــې وروره جینکـــۍ دي

بلخ



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افلاطــون پــه ځېــر بــلا بــلا خبــرې لــرو
مونږ ته هم غوږ ونيسئ مونږه هم سندرې لرو

راځئ چورلکو سره نن شپه مېلمانه يئ زمونږ
غرونه مو مه ولئ په غرونو کې ګورګورې
لــــــــــــــــــــــــــــرو
کابلۍ ! ستا ديارکېدو قابل به يو او که نه
ډېــرې خــو نــه خــو يــوه لپــه ملغلــرې لــرو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښایسـتونو لـه کـاروان سـره ورغـاړې وتـې
زړګیـه ښـه شـوه چـې جانـان سـره ورغـاړې وتـې

زمـا دخیـال دنغمـه ګـرو تـال کـې جـوړه راغلـې
ټپـه ټپـه شـوې یـه قربـان سـره ورغـاړې وتـې

اوس یې نو خپل کړه او س دزړه په تل کې ځای هم ورکړه
ډېـره مـوده پـس دې ارمـان سـره ورغـاړې وتـې

زمـا پـه سـترګو کـې دې ځـای ځانتـه ونـه مونـدلو
د اوښـکو رود شـوې لـه ګرېـوان سـره ورغـاړې وتـې

چـې دټـول عمـر خومارونـه دې یـو دم مـاتوي
( سـاحله !) څـه عظـیم انسـان سـره ور غـاړې وتـې



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅـو چـې میناـان یـو نـو کچکـول بـه ګرځـوو
غـزا تـه چـې ورځـو پـه غـاړه ډول بـه ګرځـوو

بـې بنګـو ګـوزاره خـو ډېـره ګرانـه ده جانانـه !
چې چېرته ځو لـه ځـان سره کنډول بـه ګرځـوو
غمونـــه او دردونـــه او داخيـــرې ګرېوانونـــه
جانانـــه ســتا لپـــاره بـــس داتــول بـــه ګرځـــوو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نذرانه

نه ،
داسې خونه ،
چې ته دبل په لاسو
له مانه سر غوڅوې
سر غو څول مې هم قبول دي ياره !
خو ستا په خپلو لاسو
خو ستا په خپلو لاسو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــونږه دژونـــد هــره شـــېبه دچـــا پـــه يـــاد تېــرو
مــونږ پــه غمونــو هــره شــپه دچـــا پــه يــاد تېــرو

ســم لکــه روح غمونـــه هــم لـــه ځانـــه نـــه بېلـــوو
دا ژونـــد دغـــم پـــه حوالـــه دچـــا پـــه يـــاد تېـــرو

چـــاره مـــو نشـــته شـــوګيرو مـــو ســـترګې وخـــوړلې
اوس شـــپې دبنګـــو پـــه نشـــه دچاپـــه يـــاد تېـــرو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چـــې هغـــه شـــپه، رانـــه پـــاتې شـــوه
پـــوی شـــوم چـــې هغـــه، رانـــه پـــاتې شـــوه

نـــور بـــه ځـــان دغـــم پـــه خـــوب ویـــده ســـاتم
نـــــوره شـــــوګیره رانـــــه پـــــاتې شـــــوه
مـــه کېنـــه ســـاقي پـــه میکـــده کـــې اوس
ځـــــه کـــــوې نشـــــه رانـــــه پـــــاتې شـــــوه
نـــــوره بـــــه دغرونـــــو لاره ونیســـــم
نـــــوره داکوځـــــه رانـــــه پـــــاتې شـــــوه
بیـــا بـــه تـــر ابـــده پـــورې پـــاتې یـــم
اوس چـــــې قافلـــــه رانـــــه پـــــاتې شـــــوه

وه ( ســـاحله ) اوس چـــې غـــزل نـــه وایـــم
ګرانـــــه شـــــوه پیالـــــه نـــــه پـــــاتې شـــــوه

خدای دې اوس کوم سندرغاړي پرې وربرابر کړي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

اروابناد فرهاد ته د هغه په لیکه !

هغــــه چــــې یــــه فرهـــاده ! مـــا اوتـــا زنـــدئ کـــوي
یـــو ورځ بـــه دا ځلـــور کونجـــه دنیـــا زنـــدئ کـــوي
ای ! ودرېږ مـــخ راواړوه چــــې لاړه رانـــــه، نـــــۀ شـــــې
تیـــاره را خـــــوره شـــــوې ده رڼـــــا زنـــــدئ کـــــوي
دې خـــوار ولـــس دغـــاړې رســـئ ســـرته خېژولـــــې
خـــو دا یـــاغي بـــاغي خلـــک یـــې لا زنـــدئ کـــوي
څـــوک ور دمیکـــدې تـــږي ســـاقي پـــه کـــانو ولـــي
همـــدې کلـــي کـــې نـــور پـــاڅي مـــلا زنـــدئ کـــوي

( ســـاحله ) د دلبـــر ښـــېرا کـــې دومـــره لـــوی اغېـــز دی
چـــې اوس راتـــه پـــه ســـتوني کـــې دوعـــا زنـــدئ کـــوي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکون

دا نیمګـــړي مینـــې دې میراتـــې شـــي
دا کیســې بــه څــومره پــه زړه پــاتې شــي

څنــګ چــې مخــامخ ورســره ودرېــږم
هېـــرې رانــــه ټــولې ننــــواتې شـــي

تــه چــې زمــونږ پیغلــې پــه مرمــۍ ولــې
ستا پیغلـې دې غبرګـې پـه مـلا مـاتې شـي

ســـترګې جنګـــول او جـــواري د زړو
دغـــه مســـلې بـــه ډېـــرې زیـــاتې شـــي

ستا پـه نـوم غـزل چـې خیـال کـې راولـم
ګـــوتې مـــې قلـــم بانـــدې رامـــاتې شـــي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

زړه مې غواړي څنګ ته دې اوده شمه
ستا لپاره وسوځم اوبه شمه

ستاسترګو کې خپلې سترګې ښخې کړم
څومره ښایسته شم څومره ښه شمه
ته خو دې دتل لپاره ته اوسې
زه هېڅکله نه غواړم چې زه شمه
ښايي سپوږمۍ تاته به درسمه
خوب کې هره شپه په الوته شمه

نه غواړم چې تل داسې ( ساحل) اوسم
غواړم سمندره چې دې زړه شمه



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



څــــه نـــــا علاجـــــه زمانـــــه ده خلــــک زړه خرڅــــوي
د څــــو روپیــــو پــــه بدلــــه کــــې ســــپینه خولــــه خرڅــــوي

نــــوره نــــرۍ دماشــــومانو زړونــــه لاس کــــې ســــاتي
زمــــونږ ماشــــومان خــــو یــــا اوبــــه او یــــا ســــابه خرڅــــوي

ازاد بــــازار دی نــــو ســــړی بــــه پــــه کــــې څــــه ووایــــي
څوک سپین اوسره راوړي او څوک په کې واړه خرڅوي

زمــــونږه پیغلــــې ډکــــې ســــترګې ګرځــــوي لــــه اوښــــکو
خــــو ګاونــــډی پــــه اعظمــــي بیــــه رانجــــه خرڅــــوي

مــــنم ( ســــاحله ) چــــې غمــــو بــــه یــــې پــــه ســــر اخیســــتی
خــــو بــــاور وکــــړه خلــــک خپــــل کورونــــه نــــه خرڅــــوي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــس چـــې دې جلـــې وفـــا ونـــه کړلـــه
تـــــولې زنـــــدګۍ وفـــــا ونـــــه کړلـــــه

مالـــه مـــې دې زړه نـــاولي غـــم جـــوړ کـــه
تاســــــره خـــــولګۍ وفـــــا ونـــــه کړلـــــه

زه خـــو يـــې دمينـــې پـــه درد پـــوی کړمـــه
مـــــړه شـــــاعرۍ وفـــــا ونـــــه کړلـــــه

مـــــا دپېښـــــور کوڅـــــو کـــــې واورېـــــدل
اف ! چـــــې کـــــابلۍ وفـــــا ونـــــه کړلـــــه

خلکـــو لمـــر اوســـتوري لاس کـــې ونيـــول
ماســــــره ســــــپوږمۍ وفـــــا ونـــــه کړلـــــه



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــلا مــودې وشــوې چــې داســې پــه ســجده پــاتې دی
داسـړی څـوک دی چې پـه واوره کـې خولـه پـاتې دی

څوک يې مادر بولي او څوک پرې بيا دمور غږ کوي
پـه دې نـړۍ کـې صـرف همدغـه نـوم ښايسـته پـاتې دی
خلکـو خـو خپلــې برخــې هـر چېرتــه معلـومې کړلــې
بس يو پښتون دی چې په هر ځـای کـی ساده پاتې د ی
ورشــه بېګــاه خــو تــرې پــه منــډه منــډه بېرتــه راغلــې
تصـــوير دې هغســـې ســـريښ پـــه آيينـــه پـــاتې دی

ســپوږمۍ خــولاړه ســپوږمۍ مــخ څــادرکې ونغــاړلو
( ســاحل ) وده کــړئ ســاحل هســې شــوګيره پــاتې دی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتــه وګــړي دخپــل ځــان پــه فلســفه کــې ورک دي
تــول مخــامخ ورتــه ولاړ خــو آيينــه کــې ورک دي
لــه تابــه څــه پوښتم چې څوک يمه او نـوم مـې څـه دی
زمــا دنــامې تــوري زمــا پــه ســيپاره کــې ورک دي
يــونيم ســړی دبـل ښايسـت کـې سترګې ښـخې سـاتي
نــور نــو اکثــره بيــا دځــان پــه تماشــه کــې ورک دي
خلــک پــه نــورو هــديرو کــې مــړي ســاتي ورځــي
زمــونږه مــړي بيــا زمــونږ پــه هــديره کــې ورک دي
ورځ کې دلمر لـه رڼا ځان ساتي خو ګوره سپوږمۍ!
ستا پـه رڼـا پسـې بـلا خلـک پـه شـپه کـې ورک دي
ښــه ، پــه ســاحل کــې دې بــلا هيلــې کرلــې دي خــو
ډېــرې کيســې دې ســمندره پــه څپــه کــې ورک دي
ډېــر داســتانونه دې يــوه يــوه څپــه کــې ورک دي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

راشي شوګيره کوي
ټوله شپه کيسه کوي
څه لېوني خلک دي
جنګ کوي جګړه کوي
عشق خلوص او زغم وفا
څومره ښه واره کوي
سترګې چې ور واړوم
سره واوري خوله کوي
بيا يې سترګې پټې دي
بيا به څه بانه کوي
زمونږ شعرونه هېڅ نه دي
خوند يې سريزه کوي
تاته انتظار سپوږمۍ!
څه بلا مزه کوي
يو ځای شول خندا برېښنا
خدای مې دې پرده کوي
زمونږ دښمن زمونږ کورکې
خوب کوي دمه کوي
اوه ! ساحل ويلي وو
بل چېرته به شپه کوي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غبرګ

یاره !
منم چې ښایست نه لرې ته
نه مې دسترګو کڅې
ستا په لیدلو سوځې
خو دغې غبرګ دې څه بلا کړېده
بس چې راپېښنه وکړې
سترګې مې پټې شي او لید وبایلي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درویش دوراني په پل

څوک چې ښایست نه لري څوک چې ایینه نه لري
هغه په ژوند کې دخوښۍ یوه شېبه نه لري
په بخملي تختونو شپه ورځې ویده پراته وي
دلته بلا وګړي شته چې شوګیره نه لري
د وجود نور غړي دې هر وختې پرده کې وي خو
وایي چې سترګو ته کاته څه کفاره نه لري
ددې هېواد دابادۍ تمه به څه تري وشي
دلته ماشوم تر اوسه لاس کې سیپاره نه لري
سپوږمۍ ! داستا دمخ رڼاته خوار په تمه ناست دی
یو څوک غزل لیکي له ځان سره ډیوه نه لري
ښايي ددې نړۍ بدبختــه وي همــدوی ساحله !
هغه وګړي چې جومات او مناره نه لري



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي چې راځي مونږ ته جمال ورسره نه راځي
عشق راوړي زړه راوړي جلال ورسره نه راځي
څنګ چې دپښتون بچی نړۍ ته سترګې پرانیزي
جنګ جګړې یې کسب وي کمال ورسره نه راځي
ښايي چې ددې نړۍ بدبخته خلک مونږه یوو
مونږ ته چې ښاما ر راځي نو لال ورسره نه راځي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

چېرته چې پرده دسړي نه کيږي
هلته نو بيا شپه دسړي نه کيږي
سترګې بنې په دې چې بهر لار لري
زړه کې ګوزاره دسړي نه کيږي
يا خو دمور غېږه يا د يار کوخه
بل ځای کې دمه دسړي نه کيږي
بنکليه ! چې ته نه يې نو داومنه
ځان سره دعوه د سړي نه کېږي
هسې نه ساحله ! چې لمبه دې کړي
بيا ګوره چاره د سړي نه کېږي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

بیـا سـلام راباندې شـوی
بیـا الهـام راباندې شـوی
څـه بـه هـر بـښکلي تـه ژاړم
څـه ناکـام راباندې شـوی
سندریز وطـن کـې اوسـم
څومره پـام راباندې شـوی
څـه تـاثیر سـتا کمالزیـه !
د کـلام راباندې شـوی
زه مجبوریمـه سـاحله !
غـم د قـام راباندې شـوی

۲۱ _ ٦ ۲۰۱۰ کلید راډیو

دلتـه خلـک ډېـر مغـروره دي مـن، مـن دي
داسـې نـه ده چـې پـه چاپسـې دردمـن دي

یـوه تشـه خولـه خنـدا او مسـک برېتونـه
دا وګـړي بـس همـدغومره خـوږمن دي
همغـوی بـه سـتا خوښـۍ لمبـه ، لمبـه کـړي
تـه ، بـه وایـې څـه یـاران مـې اندېښـمن دي
مـایو وخـت ویـل چـې ښـکلي راتـه ګـران دي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـو تـر اوســه هـم پــه مــا بانــدې شــکمن دي

نـــه ســـاحله ! ســـتا د زړونـــو ســـاتل نـــه زده
پـــه همـــدې درنـــه دا ښـــکلي ګيلـــه مـــن دي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

ستړګو نه پرده کوو چې څه کېږي
زړه کې ګوزاره کوو چې څه کېږي

پرېبږده چې د زړه خبرې ومنو
هر ښکلي ته ښه کوو چې څه کېږي

خوب کې خو زړګیه جانان نه راځي
نوره شوګیره کوو چې څه کېږي

ټول کلی به پوی په خپله مینه کړو
دغه اراده کوو چې څه کېږي

څه ساحله ! نن خو مې سوال ومنه
چېرته ننداره کوو چې څه کېږي

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲٤ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



( لکه غرونو کې اوبه ته لاره وشي )
داسې کله زړه ته لاره وشي
په دې لاره باندې ډېر خلک ښوییږي
خو یوازې ستا بانه ته لاره وشي
د مین زړګي ارمان په کې تویيږي
چې له سترګو نه لېمه ته لاره وشي
ستا غمونه مې په خیال کې داسې ګرځي
( په غوړو کې چې ویښته ته لاره وشي )

چې هر ښکلی یې په زړه کې لاره کاږي
ساحل نه وایي چې څه ته ؟ لاره وشي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـونږ ژونـدي يـو خـو لـه ژونـده نـاخبره
مـونږ بـې خونـده يـو لـه خونـده نـاخبره

اوس د ښـار پـه منزلونـو کـې اوسـيږو
اوس يـو ځکـه لـه هلمنـده نـاخبره

تـه خـو ښـه يـې يـو سـلام خـو دې راغلـی
خـو بيـا زه يمـه څرګنـده نـاخبره

سـتا يـوه بوسـه بـه مـا اوبـه، اوبـه کـړي
زه خـو ومـه لـه سـوګنده نـاخبره

تـه پـرې زمـا سـلام لـږ ووايـه جلالـه !
ستا سـاحل دی اوس لـه (( انـده )) نـاخبره



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه يــاري کــړي نــه ســلام کلــي کــې ګرځــي
ښــکلي ځــه کــوي مــدام کلـــي کـــې ګرځـــي

د زړه وينـــې خـــو زمـــوږ پســـې تـــويېږي
خــدايزده چاتــه لاس پــه نــام کلــې کــې ګرځــي
ســـتا مـــين چـــې غزليـــز ســـفر پيـــل کـــړی
لـــه طبيعـــت اخلـــي الهـــام کلـــي کـــې ګرځـــي
ددې زيـــري پـــه ارمـــان پســـې بـــه مـــړ شـــم
چـــا رواړی دی پيغـــام کلـــي کـــې ګرځـــي

فقـــط ســـترګې جنګـــوي او لاره ګـــوري
ســـاحل ځـــه پـــه احتـــرام کلـــي کـــې ګرځـــي

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲۱ کليد راډيو



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــو غــزل او یــو ســلام د مینـــې نښـــه
د هـــر ښـــکلي احتـــرام د مینـــې نښـــه

د بـــل غـــم ســـره د اوښـــکولارې لارې
پـــه ګلونـــو بانـــدې پـــام د مینـــې نښـــه
پـــه کوڅـــه کـــې یـــو هلـــک د ونـــې شـــاته
او جینـــۍ ناســـته پـــه بـــام د مینـــې نښـــه
د مشـــــــرانو د خبـــــــرو اورېدنـــــــــه
د ماشـــوم پـــه خولـــه پیغـــام د مینـــې نښـــه
تــه دې خپـل یـاران ګـرم مـه بولـه سـاحله !
ســـتا غـــزل ســـره ناکـــام د مینـــې نښـــه

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲۱ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مــې مــه پټــوه ګرانـــې ! درســـره دی
بېرتـــه یـــې راکـــړه مهربـــانې! درســـره دی

اوس خــو زه هــم لکــه سـیوری درپســـې یــم
چېرتـــه ګرځـــې ســـرګردانې ! درســـره دی

نـور نـو نـه کېږي خبرې دې اوردې شـوې
د الفــــــاظو ترجمـــــــانې ! درســـــــره دی

خیـر دی مـا لـه دغـې غمـه پـه امـان کـړه
د غمونــــــو کـــــــوروداني درســـــــره دی

د سـاحل لـه خـولې بـه بـد الفـاظ وانـه وړې
درتـــــه وایمـــــه ګلپـــــانې ! درســـــره دی

۲ _ سرطان _ ۱۳۸۹ کلید راډیو

ســــــره ګلابونـــــه چـــــې شـــــبنم پــــالي
زړه مــــــې اوس دغســـــې صـــــنم پــــالي

ســــتا مرمرینـــو ســــترګو ټېټـــې کړلـــې
ســترګې مــې جنــګ نــه کــوي نــم پــالي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــا چـــې پــه کومــو ځــان پاچــا ګڼلــو
هغـــه ملګـــري مــــې اوس کـــم پـــالي

څـــومره کمـــزوري انســـانان ژونـــدي دي
د عشــــق ټپونـــــه چـــــې پـــــه دم پـــالي

ســاحل تــه خپـل غمونــه هـېڅ نــه ښــکاري
ســـاحل لـــه هـــر چـــا ســـره غـــم پـــالي

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲٥ کليد راډيو ننګرهار



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتــه ګــل ښــکاري ګــلاب دی هغــه ښــکلی
د هــر ښــکلي انتخــاب دی هغــه ښــکلی

زه د ژونــد د ښــکلا څکــه پــه کــې کومــه
د رنګونــو یــو دریــاب دی هغــه ښــکلی

شــیخه ! ســتا د ارادو پــه کــې څــه نــه شــته
ملنګــانو تــه ثــواب دی هغــه ښــکلی

د بـد رنګـو زړونـو ژونـد بـه پـه کـې سـوځي
ماتــه ښــکاري انقــلاب دی هغــه ښــکلی

اوه ، ســاحله ! مــونږ تــه دغــه خبــر بــس د
چــې ســتا ښــکلو کــې حســاب دی هغــه ښــکلی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینـــه کـــې اســـلام تـــه ســـړی ورســـي
ځـــومره لـــوړ مقـــام تـــه ســـړی ورســـي

خپلـــه بـــې وســـي بـــه پـــه کـــې ووینـــي
اوس نـــو کـــه بګـــرام تـــه ســـړی ورســـي

ســـتا هنـــر چـــې غـــم او تربګنـــي وخـــوري
ځـــه بـــه نـــو انعـــام تـــه ســـړی ورســـي

دا شـــیبې لـــه مـــرګ ســـره ترلـــي وي
مخکـــې چـــې پیغـــام تـــه ســـړی ورســـي

کلـــه چـــې ســـاحله ! ســـترګې پټـــې کـــړي
هلـــــه بـــــه ارام تـــــه ســـــړی ورســـــي

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲٤ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نـړۍ خلـک مـاغزه وخـوري پوهـان شــي
ځمکــه ونیســي او پورتــه تــر اسـمان شــي

زموږ ځوانان چې لږ په ښه او بدو پوی شي
سـم د لاســه ټوپــک واخلــي قومنــدان شــي

00000

مـونږه ژونـد غـواړو او ژونـد د ژونـد لپـاره
داســـې نـــه چـــې د هـــوس او خونـــدلپاره

بیـــا د نویـــو عملیـــاتو نـــوم تـــازه شـــو
د پښـــــتون او د مظلـــــوم هلمنـــــد لپـــــاره



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــار راتـــه زمـــا پـــه زړه یـــوه خبـــره نـــه کـــوي
زه یــې چــې پــه تمــه یــم هغــه خبــره نــه کــوي

زه چــې خپــل یــاران د آیینــې پــه څېــر شــفاف ګڼم
ماتـــه یـــاران ولـــې پښـــتنه خبـــره نـــه کـــوي

ځـار شـمه د خپـل کلـي درانـه مشـران چـې ګورمـه
سـر یـې کـه پـه دار هـم شـي کـږه خبـره نـه کـوي

تــه ورتــه د خپلــې ښــکلا دومــره صــفت مــه کــوه
مانـــه بغیـــر دغـــه آیینـــه خبـــره نـــه کـــوي

ســـتا د غزلیـــز مـــزل د لارې لاروی نـــه شـــوم
ســتا پــه څېــر ســاحله ! زمانــه خبــره نــه کــوي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل اند او وړوکي اند ( پاڅون ) ته !

زمـــا او د جانـــان کلـــه نظـــر چـــې مخـــامخ شـــي
بـــس سـم لکـه ځـانمرګی او عســکر چـې مخـامخ شـي

لـــومړی راســـره ســـترګي جنګـــوي بيـــا غـــاړه راکـــړي
دا ښـــکلي خلـــک ماســـره اکثـــر چـــې مخـــامخ شـــي
بـــاور لـــرم چـــې غرونـــه بـــه هـــم غـــاړې ســـره ورکـــړي
کلونـــه پـــس د مينـــې مـــرور چـــې مخـــامخ شـــي
انصـــاف ورځينـــې نـــه غـــواړي ډوډۍ ورڅخـــه غـــواړي
زمـــوږ د کلـــي خلـــک او رهبـــر چـــې مخـــامخ شـــي

حتمـــاً بـــه يـــې ســـاحله ! شـــاعري بيرتـــه ژونـــدۍ شـــي
چينـار ، چينـه ، اجمـل او بيـا سـپين غـر چـې مخـامخ شـي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنـــګ چـــې دې کاتـــه لـــه مانـــه نـــه اوړي
دغســـــې دې زړه لــــــه مانــــــه نــــــه اوړي

زه بـــه دې تـــه ځـــومره خلـــک وژنمـــه
دا ســـړی پـــه څـــه لـــه مانـــه نـــه اوړي

خدايـــه ! څـــه پـــه لـــوی انســـان مـــين يمـــه
اوړي چـــې پـــه غـــره لـــه مانـــه نـــه اوړي



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېـــونی لـــه خپـــل ارمـــان ســـره پـــه لاره
وي نښـــتی لـــه ګرېـــوان ســـره پـــه لاره

چـــې ددې وخـــت د خوبـــانو څـــه عـــادت دی
قـــدم اخلـــي لـــه ګومـــان ســـره پـــه لاره

یویشـــتمه پېـــړۍ هـــم پـــای تـــه رســـېږي
خـــو څـــوک نـــه ځـــي لـــه افغـــان ســـره پـــه لاره

دا شـــــېبې د مینـــــانو ښـــــکاره نښـــــې
پلـــی تـــګ او لـــه بـــاران ســـره پـــه لاره

کـــه همداســـې اندېښـــنې وي بیـــا ضـــرور بـــه
ســـاحل مـــړ وي لـــه جانـــان ســـره پـــه لاره

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲٦ کلید راډیو ننګرهار



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــه دې خـــــراب او کـــــه دې ســـــم وکـــــه
پـــــــه ، نـــــــه خبـــــــره دې قســـــــم وکـــــــه

ښــــه، ود زړه خـــو مـــــې څـــــه غـــم وکـــــه
ســـــترګو مـــــې بیـــــا درپســــــې نـــــم وکـــــه

چــې دې دنیــا تــه مـــونږه څـــه کـــړي وو ؟
چــــې دې دنیـــــا پـــــه مــــونږ کــــرم وکـــــه

زمـــــا د اوښــــکو څـــاڅکي نـــه پېژنـــــې ؟
چــــې تــــا ګومـــــان پـــــرې د شـــــبنم وکـــــه

بېګـاه مـې خــوب لیـده چـې یـار مـې نشـته
بېګـــــاه مــــې ټولـــــه شـــــپه مـــــاتم وکـــــه

۲۷ _ ٦ _ ۲۰۱۰ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه هســـې پـــه نـــه خبـــره ســـوی کـــوي
ځـــــان ســـــره پخپلـــــه دا زیـــــاتی کـــــوي

زه کـــه ځـــومره ځـــان پـــرده کـــې ســـاتمه
ســـــترګې مـــــې د ښـــــکلو هرکلـــــی کـــــوي

دازړه پــــــه اورونــــــو بانــــــدې ایښــــــی دی
دا زړه چــــې لمبــــه کــــوي لــــوګی کــــوي

څوک به دې نړۍ کې وي چې لاس درکړي
څـــوک بـــه دې پـــه کلکـــه مخنیـــوی کـــوي

دا (( ســـاحل )) بـــه غرونـــو بانـــدې واړوې
دا ســـــاحل چـــــې تاســـــره ناســـــتی کـــــوي

نــــه ګرځــــي ګلونــــو پســــې نــــه ګرځــــي
خلــــک د چــــا زړونــــو پســــې نــــه ګرځــــي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

هــر پــردی زمــوږ د غرونــو تــږی دی
څــوک د چــا غمونــو پســې نــه ګرځــي
ښــکلي پــه لفظونــو بانــدې زړه ســاتي
ښــکلي پــه شــعرونو پســې نــه ګــر ځــي
هېڅــو ک دلتــه روغــه ســټه نــه غــواړي
هېڅــوک پــه ســرونو پســې نــه ګرځــي
خلــک یــو ارمــان بــې خوبــه کــړي دي
خلــک پــه خوبونــو پســې نــه ګرځــي
اوس ســاحل لــه هرڅــه ســره روږدی دی
ځکــه پــه ســوچونو پســې نــه ګرځــي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

بــس ایلــه مــو غریبــي پــه ښــار کــې وکــړه
مونږ همدومره خوشالي په ښار کې وکړه

زه د ژوندپـــه لاره هېڅـــا روان نـــه کـــړم
مـا هـر ښـکلي تـه زاري پـه ښـار کـې وکـړه

مـــونږ د کلـــي ښایســـتونه لولپـــه کـــړه
مونږ چې سپوره شاعري په ښار کې وکړه

نـــور وګـــړي پکـــې اوســـي لکـــه مـــړي
ځوکســـانو زنـــدګي پـــه ښـــار کـــې وکـــړه

اوه ســـاحله ! هغـــه خلـــک لیـــوني دي
چـاچې مینـه، سـادګي پـه ښـار کـې وکـړه

د خوځون حجره دشپې ۹ بجې



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتنه پېغله

ده د وخـــت خبـــره لـــيکن ډېـــره بـــې بـــاوره ده
داچـــې پښـــتنه پيغلـــه د هـــر ســـړي نـــوکره ده
دا پيغلــه پــه خپــل وجــود او نفــس ښــه زوروره ده
منمـــــه چـــــې ښـــــکلې ده ښايســـــته ده ملغلــــره ده
لاس کې ټوپـک خو لـه کې يې اور اغوستې زغره ده
ومنـــــئ د خـــــدای پـــــه ټولـــــو لارو برابـــــره ده



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کې دې ځی نه شومه هېڅ نه شومه
چې ستازړګی نه شومه هېڅ نه شومه

حالاتو ځو که ښکته پورته کړمه
خو چې سړی نه شومه هېڅ نه شومه

د یوه ساده باده غماز سترګو ته
زه چې ازغی نه شومه هېڅ نه شومه

زه که د هر سړي په کار شم موري
چې ستا سپرلی نه شومه هېڅ نه شومه

( ساحله ) ډېره غلامي مې وکړه
بس چې لوګی نه شومه هېڅ نه شومه

ځان ته ناست یمه له ستورو سره پالم
خپلو پرېښودمه، نورو سره پالم



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتــه ســپینو خلکــو تــورې کیســې وکــړې
پــاتې عمــر مــې لــه تــورو ســره پــالم

زورورو، زوروري نخـــــرې وکـــــړې
اوس چـــې مینـــه لـــه کمــزورو ســره پــالم

زه د ســرو شــونډو احســان منلــی نــه شــم
سـپورې شـونډې مـې لـه سـپورو سـره پـالم

نه ساحله ما خو هر ځل ته راستون کړې
تابــه ویــل چــې لــه میخــورو ســره پــالم



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

پــه وړه غونــدې خبــره ســړی مــات شــي
چې رابېـل شـي لـه لښـکره سـړی مـات شـي

نـن مـې بيـا يـار پـه وړه خولـه راتـه وويـل
چـې راګـورې زورورە سـړی مـات شـي

دا مرمـوزې ګونګوسـې چـې سـړی اوري
يـارانې شـي د نظـره سـړی مـات شـي

چې دې ځنګ کې وه د دنګ چينار پـه ځېر يې
خـو چـې شـوله مـروره سـړی مـات شـي

واه ســاحله ! سـتا خبـرې خـو پخـې دي
چې پـه لاره ځـي كـاپره سـړی مـات شـي

۱۸ _ ۳ _ ۱۳۸۹

خلکـو وکړلـې د غرونـو مـنځ کـې لارې
مونږ ونـه شوې کړی د زړونـو منځ کې لارې



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

د ښکلا او د سرخیو له سببه
چاته ښکاري د ګلونو منځ کې لارې؟

زه د ښکلو په کاروان پسې یم تللی
ما لیدلي د اورونو منځ کې لارې

زبردسته آیینه مې مخ ته ایښې
په کې وینم د خیالونو منځ کې لارې

خو د یار دغې خبرې زه حیران کړم
ګران دي ، ګران دي د ریابونومنځ کې لارې



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه وایــــم خبــــرو پســــې مــــړ یمـــــه
زړه وایـــې ســــندرو پســــې مــــړ یمـــه
خولـــه وایــې ګورګــورو پســې مــړ یمــه
عشـــق وایـــې ملګـــرو پســـې مـــړ یمـــه
اوس چـــې لـــه جانانـــه جـــدا شـــوی یـــم
ټولـــــو مســــاپرو پســــې مـــــړ یمـــــه
اوس مــې پــه غــره واوره راتــه نــه ښــکاري
اوس مـــې پـــه نښـــترو پســـې مـــړ یمـــه
بیـــا راشـــې او بیـــا مـــې زړګـــی وغـــواړي
بیـــا ورکـــو ســـوالګرو پســـې مـــړ یمـــه

تاتــــه چــــې ســــاحله مینــــه وښــــایي
داســــې زورورو پســــې مــــړ یمـــــه

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲۸ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

یاره ستا خبرو کې خبرې دي
کینه په سندور کې خبرې دي

دا چې سپیني خولې په بله نه اوړي
بیا نو په ګورګورو کې خبرې دي

مونږ ته یې د زړه رنځونه واچول
خدای شته په ملګرو کې خبرې دي

چېرته آیینه کې ځانته وګوره!
چا ویل ملغلرو کې خبرې دي

تانه چې ساحله ! زړه کې ژوند غواړي
بس نو دې سوالګرو کې خبرې دي

۲۰۱۰ _ ٦ _ ۲۹ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کارونه دې خراب وي سم دې نه وي
فقط دا چې خوشالي وي غم دې نه وي

هر سړي سره دې سل میله وسله وي
بس یواځې میرات مړی بم دې نه وي

ژوند همغه وي دلبره چې په زړه وي
زما سترګو کې اوسېږه چم دې نه وي

زما زړه داسې کنډر ښه دی خو ته دې
سترګې غټې ګرځوه خو نم دې نه وي

شاعران به ستا غزل اوري ساحله !
تل د ډېرو دوعا وکړه کم دې نه وي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نېـــږدې یــم ژونــــد لــــه مانــــه لــــرې دی
خدای شته دی چې خوند له مانه لرې دی

مابــــه یــــې یتــــیم وړکــــي ښــــکل کــــړي وای
څـــــه وکــــړم هلمنــــــد لــــــه مانــــــه لــــــرې دی

یـــار تـــه بـــه پـــه څـــه بانـــدې یـــار ووایـــم
دا چـــې ښـــه څرګنـــد لـــه مانـــه لـــرې دی

اوس مـې چې غـزل درتـه ښـه نـه ښـکاري
ښــه پــوی یــې چــې انــد لــه مانــه لــرې دی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــوی شــومه د کلــي غــم د کلــي دی
ماســـره دا ټــول مـــاتم د کلـــي دی

ماتــه اوس پــه ښـار کــې هـر سـړی وايــي
دغـــه ســـادګی خوســـم د کلـــي دی

ښـــار کـــې منترونـــه ، جادوګـــانې دي
تاســـره خـــو اوس هـــم دم د کلـــي دی

تاســـره د ښـــار د ښـــاپيرو صـــنم
ماســـره زمـــا صـــنم د کلـــي دی

ځومره به بې مينې وای کـه ښار کې وای
ښـه دی چـې سـاحل خـو هـم د کلـي دی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګاه راغلې
دنيا راغلې
کليوال چپ دي
بلا راغلې
ثواب ترې جوړ شه
ګناه راغلې
مورې ما ښکل کړه
سزا راغلې
څه خو به وايي
چې بيا راغلې
(( جلال )) راغلی
رڼا راغلې
چې غم راغلی
خندا راغلې
خو چې ته نه يې
ژړا راغلې
ساحله ! غرق يې
تنها راغلې

ننګرهار ادبي بهير - سپين غر پوهنتون
۲۳ _ ۷ _ ۲۰۱۰



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

افغانستان ته د جلال د راتلو په پلمه !

وایـــي جــلال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي
د شــعر جمــال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي

د ښــکلو سـیال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي
پښــتون بــلال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي

زمـــا د ســـترګو کســـي اوس نـــه ســـوځي
د تنــدي خــال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي

د مـــــاتو زړونــــــو د پیونـــــد لپـــــاره
اســتاد کــلال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي

بېګـــاه مـــې زړه ویـــل ســـاحله ! اشـــنا
ســتا انــدیوال راځـــي چـــې ځـــه بـــه کېـــږي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه ، کــه نــه پــه غــم درســـره پــاتې یــم
خـــومره ډېــر وم کـــم درســـره پـــاتې یـــم

ټـــول عمـــر دې زړه نـــه غورځـــولی یـــم
ټـــول عمـــر تـــه هـــم درســـره پـــاتې یـــم

ســـتا ګلابـــي مـــخ خـــو مـــې پـــاللی دی
ســـم لکـــه شـــبنم درســـره پـــاتې یـــم

هـــره شـــپېه ســـتا د نظرونـــو ښـــکار
لانـــدې تـــر قـــدم درســـره پـــاتې یـــم

تاکــــــه د ســــــاحل لارې څـــــارلي دي
زړه ! ګــوره زه هـــم درســـره پـــاتې یـــم



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر مو مات ښه دی خو زړه په سور کې ساتو
د ښار ښکلي یو وېښته په سور کې ساتو

سترګې مړې ښې وي چې ښکلي درته ګوري
جنګولو ته بانه په سور کې ساتو
الفاظ، نوي راولو چې زړه پرې ښه شي
شعر ویلو ته زاړه په سور کې ساتو
مونږ.له هرې ښکلا خپله برخه غواړو
دې حالاتو کې ځان ښه په سور کې ساتو

نه ، ساحله ! خو چې یار در ځیني لاړه
بیا به هغه مهال څه په سور کې ساتو !؟

۱۳ _ ۱۰ _ ۲۰۱۰



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

دا ژوند لکه د تورو کانو غر شي چې ته ځې
د هرچا لاس په ما خوارکي برشي چې ته ځې

له تاسره دا ټول ماحول راټول وي لکه مور
وجود له مانه بلکل مرور شي چې ته ځې
زمونږ په کې نور څه دي چې دمې په کې کوو
اورونه دې ورپورې په ګودر شي چې ته ځې
دا ستا په سر د هسکې شملې ویاړ لرمه زه
له ما نه دې هم پاتې شور او شر شي چې ته ځې

پاچا دې کړ له ځمکې نه دې پورته کړ اسمان ته
ساحل به بېرته بیا د چا نوکر شي چې ته ځې

۵ _ ۸ _ ۲۰۱۰ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زه ولــې کــوی نــه شــم ګــذران لکــه یــاران ؟
هــر وختــې ښــکلووم د خــدای قــران لکــه یــاران

د خیـال څپې مې وچې دي په دښته کې روان یم
پــه زړه بانــدې مــې نــه اوري بــاران لکــه یــاران

د هـرې زمـانې د سـود او زیـان کیسـه کـې نـه یم
الله راکـــړي شـــکر دی یـــاران لکـــه یـــاران

له هر چانه به ځان ځاروم خوله به ترینه غواړم
پـه ژونـد کـې بـه نـور نـه کوم خپګان لکه یاران

ســاحله ! ددې وخــت لــه رواجونــو نــه تېرېــږم
لــه ځــان ســره بــه ګرځــوم جانــان لکــه یــاران

۵ _ ۸ _ ۲۰۱۰ کلید رادې



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربــــه اســـتعمار یمـــه مـــا وژغـــوره
زړه بانـــدې ببمـــار یمـــه مـــا وژغـــوره

ســـره کفـــار راغلـــي دي او وژنـــي مـــې
پـــروت پـــه لویـــه لار یمـــه مـــا وژغـــوره

منمـــه چـــې ســـتا لاره مـــې پرېښـــې وه
بیـــا هـــم امیـــدوار یمـــه مـــا وژغـــوره

هـــر ســـړي نـــه مینـــه د ورورۍ غـــواړم
خـــاورې د دربـــار یمـــه مـــا وژغـــوره

بلـــــه اثـــــره بلـــــه لاره نـــــه لـــــرم
تاتـــــه انتظـــــار یمـــــه مـــــا وژغـــــوره

د وږي لومړۍ نېټه ۱۳۸۹ کال کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

لکـــه ګـــل ، لکـــه لېمـــه، لکـــه اوبـــه
راتـــوييږي مـــې پـــه زړه لکـــه اوبـــه

اوس د سـرو وینـو چینـې لـه ځمکـې وځـي
اوس نـــو نشـــته دی اوبـــه، لکـــه اوبـــه

کليوالـــو ښايســـتونو تـــه لـــوګی شـــم
ښـــکلي، ښـــکلي دي رانـــه لکـــه اوبـــه

د غريبـــو مينـــو غـــم ورســـره نشـــته
زورو دې شـــــي ســـــاړه لکـــــه اوبـــــه

دوه ښکلاوې دي ساحل بـه پـه کـې مړ شـي
يـــو دې مينـــه او بـــل تـــه لکـــه اوبـــه



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــلا بـــه وه خـــو برکـــت يـــې نـــه و
جذبـــه يـــې ورکـــه وه  جـــرات يـــې نـــه و

داخـــل پـــه کلـــي کـــې هرڅـــه ښـــکلي وو
کلـــــی هماغـــــه و غربـــــت يـــــې نـــــه و
چـــا ورتـــه هســـې ســـلام هـــم نـــه کـــاوه
ملنـــګ ژونـــدی و کرامـــت يـــې نـــه و
بيـــا هـــم د کلـــي خـــان ظلمونـــه کـــول
بيـــا هـــم بـــې قـــدره و عـــزت يـــې نـــه و
يـــو ورځ بـــه وي چـــې هـــر ســـړی بـــه وايـــي
ســـاحل خـــو و خـــو بغـــاوت يـــې نـــه و

٢٣ _ ٩ _ ٢٠١٠
کليد راډيو جلال اباد



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

چـــې نـــه کــوې د زړه لـــه تلـــه مینـــه راســـره
الله دې نـــه کـــړي ګـــډه دا ســـتا وینـــه راســـره

بیـا وروسـته مـې د سـترګو تیتېـدل نـه دي پکـار
بـس ښـه شـوه چـې خبـره دې کـړه سپینه راسـره

د شـور لـه بـازارونو نـه پـه منـډه منـډه راغلـم
دنیـــا د خاموشـــۍ نـــه شـــوه رنګینـــه راســـره

د ژونددخوشـبویۍ لپـاره ښـه لونـګ پـه کـار دي
کـه خـدای چیـرې نیـږدې کـړي لونګینـه راسـره

ســاحله ! یــو بدرنګــه زمانــه کــې پیــدا شــوی
داخلـــک او حـــالات چـــې دي بدبینـــه راســـره

۱٦ _ ۹ _ ۲۰۱۰ کلید راډې جلال اباد



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ چې کله تېره شي نو شپه راځي
خوارو او بربنډو ته پرده راځي
چاته د زړه سر چاته مېلمه راځي
مونږ ته هم پراخه حوصله راځي
یاره دومره زر رقیب ته مه ورځه
ژوند دی دې کې غم راځي غوسه راځي
پورته ورته هم کتلی نه شمه
هر ښکلی چې ګورمه جذبه راځي
هره ورځ په غرونو کې بمبار کېږي
هره ورځ له غرونو جنازه راځي
زه خو یې د سولې خلاف بولمه
چېرته چې په مخه دروازه راځي

کله چې یار ښکل کړم سترګې ټیټې کړي
نه ، ساحله ! دا کار مې ښه نه راځي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــو وخـــت و شـــاعري وه یارانـــه وه زړه کـــې زور و
د ښـــکلو پـــه خبـــر ښـــکلې زمانـــه وه زړه کـــې زور و

اوس هـــر چاتـــه ســـلام کـــول د ژونـــد کولـــو لاره
پخـــوا خـــو کـــه ګېلـــه کـــه بهانـــه وه زړه کـــې زور و
ګـــودر و چټـــې پېغلـــې وې لمـــر مخـــي هلکـــان و
ســـــندره وه ټپـــــه وه ترانـــــه وه زړه کـــــې زور و
اوس زور دی بدمعاشـــي ده خـــو چـــې ښـــکلي خلـــک شـــته و
قـــانون و محکمـــــه وه جېلخانـــــه وه زړه کـــــې زور و

ســـاحله ! دا خـــو ښـــار دی مېخـــانې دي خلـــک سســـت دي
بـــس کلـــی و چـــې ژونـــد و بنګدانـــه وه زړه کـــې زور و



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنـــکلی یـــې بنـــکلی راپســـې راځـــه

زړه یـــــې منلـــــی راپســـــې راځـــــه
لکـــــه پـــاللی مینـــــه نـــــه غوارمـــــه
لکـــــه ســـــاتلی راپســـــې راځـــــه
دانـــــه وانـــــه یـــــې تولـــــوه راپســـــې
زړه مـــــې شـــــیندلی راپســـــې راځـــــه
بیـــا بـــه د ژونـــد پـــه لاره نـــه ودرېـــږي
مـــرګ مـــې ګنـــډلی راپســـې راځـــه
نـور بـه اغـزي چېـرې چېـړل ونـه کـړي
ګـــل مـــې ســـېځلی راپســـې راځـــه

ســاحله ! چېرتــه بــه مــې زړه پرېــوځي
عشـــق مـــې ګـــوتلی راپســـې راځـــه

۱ _ ۸ _ ۲۰۱۰ کلید راډیو



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاره چــاودی شــومه یــاره زاره چــاودی
ســتا د ســترګو لــه ګــوزاره زاره چــاودی

مـا خـو ټـول عمـر خـواري درپسـې و کـړه
خـو تـا څـه کـړم پـه کـراره زاره چـاودی

مشره ! څومره چاپلوسي دې په کې وکړه
بیــا هــم لاړې لــه دربــاره زاره چــاودی

تــه، خــو دلتــه هــر ســړي پــه کــاڼو ویشــتې
اخـــر شـــوې د چـــا لپـــاره زاره چـــاودی

اغیـار ژاړي خـو جانـان ورپـورې خانـدي
سـاحل مړ پروت دی پـه لاره زاره چاودی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مجید قرار ښکلي لور ډیوه ګلې ته !

د ګلونـــو پـــه ځېـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــه
اوو رنګونـــو پـــه ځېـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــه

د دې ټـــول طبیعـــت او ټولـــو کاینـــاتو
تصـــویرونو پـــه ځېـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــه

د مېینـــــې کلېـــــوالې تـــــورو ســـــترګو
نظرونـــو پـــه ځېـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــه

د کابـــل د شـــوخو شـــوخو مســـتو پېغلـــو
مړونـــدونو پـــه ځېـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــه

د قـــرار د ســـترګو تـــور او د زړه مینـــې
د شـــعرونو پـــه ځېـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــه



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــواځې مــې دا ســتا پــه خــولګۍ زړه نــه يخېــده
يــو څــه خــو يخېــده خــو داســې ښــه نــه يخېــده

دا ســتا د يــوې مســتې خنــدا څــه عجيبــه تــاو، و
د زړه اور مـــې پـــه واورې او اوبـــه نـــه يخېـــده

د يـــار پـــه جـــدايۍ مـــې تـــر ســـحره ځنکـــدن و
رقيـــب هـــم تـــر ســـحره راکاتـــه نـــه يخېـــده

لـه زړه نـه مـې د وينـو څـه عجيبـې لارې وشـوې
دلبـــر پـــه کـــې منـــډلي وو بانـــه نـــه يخېـــده

ســـاحله ! عجيبـــه مســـلمانان لـــه نـــړۍ لاړل
چې ورور به يې مړ پروت و په کاله نه يخېده

١٦ _ ١٠ _ ٢٠١٠



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ لېوني نه يو خو چا لـه مونږه زړه وړی دی
يـوې جلـۍ يـوې ښــکلا لــه مـونږه زړه وړ ی دی

دا مونږ چې هر سړي ته ګورو او خندلی نـه شـو
بــاور دې وشــه چــې بــلا لــه مـونږه زړه وړی دی

لـږه مـوده کېـږي چـې تــه مـونږ سـره مينــه کـوې
ډېـره مـوده وشـوه چـې تـا لـه مونږه زړه وړی دی

له تا خو هسـې هم مونږ خیـر چېرتـه لېدلی نـه دی
ستا پـه ژړا کـې دې خندا لـه مونږه زړه وړی دی

ساحله ! ستا پـه ارداو باندې بـه پوی شـو خیر دی
چـې تـا پـه څـه ډول مانـا لــه مـونږه زړه وړی دی



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپنه خوله په سپین سهار سړی وهي
د ښایسته خلکو ازار سړی وهي

د خپل کلي چینارونه در په زړه شي
سره تاوونه چې د ښار سړی وهي

چې د ښکلو مخ دې ښکل که پې تر ې وځي
ته به وایې چې کوکنار سړی وهي

ستا خولګۍ نه وه بېګاه نهر ویده شوم
قسم مه کوه چې یار سړی وهي

څه ساحله ! ستا زاري څه زما کبر
دواړه یو ځای په کرار سړی وهي



www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکون

بــــلا وهلـــــي يـــو بـــلا دې زمـــونږ زړه ووهـــي
دنيـــا پرســـته يـــو دنيـــا دې زمـــوږ زړه ووهـــي

زموږ په سترګو کې د خاورې شيندل څه مانا ده
اشــنا دې راشـــي او اشــنا دې زمـــوږ زړه ووهـــي

زموږ په زړونو کې خو چېرې اوسېدلای نه شي
که دلته ژوند غواړې پاچا دې زموږ زړه ووهي

دلبر تـه وايـه چې د غرونو سره سر جنګوو)
پـه چړې نـه شي پـه خندا دې زموږ زړه ووهي

ساحله ! پوی شه چې ايمان به پسې بايلو اخر
داسې نو نه شي چې ښکلا دې زموږ زړه ووهي

۱۸ _ ۱۰ _ ۲۰۱۰



www.ketabton.com انلاين پر ليکه کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library





www.ketabton.com انلاین پر لیکه کتابتون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**